# د غلط فهمیو

## رفع کول

# غلط فهمیو

## رفع کول

# د غلط فهمیو

رفع کول

وکلف اے سنگ

ناشرین

گوډ نیوز بوکس

۳. مشن روډ ، لاهور

طابع: __________________ ایم ویکلے

چاپ: __________ گاسپل پرنٹنگ پریس

اول چاپ: __________________ ۱۹۸۲

دویم چاپ: __________________ ۲۰۰۲

# د غلط فهميو رفع کول

ځرنګه چې ځينې خلک د مسيحيت په هکله وران پوه شوی دي، نو د دې رسالې په ليکلو سره زيار ايستل شوی چې دغه غلط فهمی د امکان تر حده پورې له منځه ولاړې شی او ټول و کولای شی چې د واقعی مسيحيت سره آشنائی پيدا کړی او د هغه د برکاتو او آسمانی ښيګڼو ځخه ګټه واخلی.

د ليکونکی اصلی هدف دا دی چې د مسيح د پيغام د آوريدلو لپاره لاره هواره کړی او دغه غلط فکرونه چې مدام دَ مسيحيت حقايقو ته د رسيدو په لاره کې خنډ ګرزيدلی دی له منځه يوسی.

نو له همدې کبله ليکونکی د ګرانو لوستونکو ځخه دا هيله لری چې دغه رساله دې په روښانه فکر، بې له تعصبه او په ښه نيت سره پوره ولولي او دعا دې وکړی چې خدای هغوی ته د الهی حقايقو په پوهيدو کې هدايت ورکړی.

په دغه رساله کې کوشش شوی دی چې په لنډ ډول سره پنځه غلط فهميو ته جواب ورکړ شي.

# ۱ - لمړی غلط فهمی

هغه دا چې مسیحیت یو بهرنی مذهب او په غربی ملکونو پورې تړلی دی او شرقی ملکونو سره چې په خپل خاص ډول عقیدې او رواجونه لری کومه اړه نلری. د دې غلط فهمیو یو علت دا دی چې تش په نامه مسیحی هیوادونه د واقعی مسیحیت نمائینده بلل کیږي.

جواب: ظاهراً داسې ښکاری چې د غلط فهمی صحیح ده، مګر د دې د رفع کولو د پاره لاندې ټکوو ته پام وکړه.

الف: د مسیحیت د زیږیدنی ځای څرنګه چې مسیح په فلسطین کې وزیږید، همدارنګه مسیحیت هم له هم دې ځایه شروع شو. د فلسطین جغرافیائی موقعیت دا رنګ دی چې د آسیا او آفریقا او اروپا درې وچې په خپلو کې سره نښلوی، له ډیرو پخوا زمانو راپدې خوا تجارتی لارې له دې مځکې څخه تیرې شوی دي او دغه مځکه د لرې لرې لویو لښکرو شاهده وه. له هم دې کبله کله چې

مسیحیت پیل شو، له همدغه ملک څخه په ډیره بیړه د نړۍ نورو برخو ته خپور شو.

ب: د مسیحیت ژر خپریدل : د مسیحیت ډیر ژر خپریدل د مسیحیانو اطاعت د مسیح له دې دستور څخه وو چې ویلی وو چې " ټولی نړۍ ته لاړ شئ او د نجات زیری خلکو ته ورسوئ" د مسیح شاګردانو د روم د لویو او مشهورو لارو څخه په ګټه اخیستلو سره او هم د سیندونو او تجارتی لارو څخه د روم په ټوله امپراطوری او د نړۍ په ټولو برخو کې مسافرتونه وکړل، په دغو لارو کې دومره امنیت او سفر آسانه وو چې د روم مامورینو او نورو خلکو په ډیری آسانتیا سره کولای شول چې د یورپ ډیرو لری برخو ته لکه انګلستان او همدارنګه په ختیځ کې لکه ایران او هندوستان ته مسافرت وکړی. په هماغه لمړینو وختونو کې مسیحیت د یو لوړ رتبه دولتی مامور په واسطه حبشی ته ورسید. چې په دغو سیمو کې لاتر اوسه پوری ځینې مسیحیان شته. مسیحیت دومره ژر پرمختګ وکړ چې تر تولیان (یو له مشهورو مؤرخینو

څخه چې په ۱۲۰ میلادی کال کې زیږیدلی، وائي چې " مسیحیان په ټوله نړۍ کې خپاره شوی او د بت پرستانو شمیر ډیر لږ شوی دی.

د بخور صادرات چې د عربستان څخه د بت پرستانو په عبادت خانو کې د سوزیدلو لپاره صادریده ډیر لږ شو، دا ځکه چې د مصرف کوونکی شمیر لږ شوی وو. کله چې د مسیحیانو شمیر د روم په امپر اطوری کې ډیر شو، دولت کوښښ وکړ چې هغوی په ظلم او آزار سره له منځه یوسي. ډیر کسان وشړل شول، ځیني ئې د ورزش په میدانو کې وږو زمریانو ته ور واچول او ځیني نور ئې د ډیوې په ځای وسوزول. سره له دې هم د مسیحیانو شمیر مخ په زیاتیدو وو لکه چې د مسیحیت ونه د مسیحی شهیدانو په وینه اوبه کیده او لوئیده، وروسته له دریو پیړیو څخه مسیحیت وکولای شول چې د روم د امپر اطوری دښمنۍ په دوستۍ بدلی کړی او په کال ۳۱۳ میلادی کې د روم امپر اطور قسطنطین د مذهب آزادی اعلان کړه او دی پخپله هم مسیحی شو. څو آروپائی هیوادونه لکه انګلستان، آلمان او اسکندنیاوی

هیوادونو د بت پرستی څخه لاس واخیست او مسیحیت ئې ومانه. علاقه لرونکی کولای شی چې د ډیر معلومات د لاس ته راوړلو لپاره د مسیحیت د خپریدو په هکله تاریخی کتابونه ته رجوع وکړی.

د چین پراخې خاوری ته د مسیحیت ورتګ دومره روښانه نه دی مګر داسې نسخی په لاس راغلی چې په دغه پراخه خاوره کې د مسیحیت د خپریدو شاهدی دي. د مسیحیت د ګړندی خپریدو په هکله د نړۍ په مختلفو برخو کې ډیر شواهد موجود دي چې له هغې جملې څخه کتیبی او تاریخی کتابونه او لوئې کلیسائي ودانی او روغتونونه او یو شمیر پوهنتونونه دي چې دا ټول شیان د نړۍ په مختلفو برخو کې د مسیحیت د خپریدو ښکارندوی دي. د پورتنیو توضیحاتو څخه پوره روښانه کیږي چې مسیحیت په غربی ملکونو پورې اړه نلری، بلکه په ټولو نړیوالو پورې اړه لری.

ج: د مسیحیت تاثیر په مختلفو ملکونو کې: مخکې مو وویل چې د قسطنطین د مسیحی کیدو څخه وروسته د

روم د امپر اطورۍ دشمنی د مسیحیانو سره په دوستۍ بدله شوه.

د روم د امپر اطورۍ څخه بهر ډیرو وحشی قومونو بت پرستی پریښوده مسیحیان شول. د دولتونو او بادشاهانو ملاتړ د مسیحیت څخه مسیحیت ته داسې خطری پیښی کړی دي چې له پخوانیو ظلمونو او شکنجو څخه لا زیاتي وی. که څه هم د مسیحی ملتونو په تاریخ کې داسې پیښی، رامنځ ته شوی چې د ټولو د افسوس سبب ګرځیدلی خو سره له دې هم هر چیری چې مسیحیت قبول شوی او د هغه اصول عملی شوی دي د آزادۍ او د بشر د حقوقو له نظره ډیر په زړۀ پوری پرمختوګونه شوی دي.

د: د مسیحیت راتلونکي: د پورتنیو ټکو د لوستلو څخه څرګندیږي چې تقریباً د نړۍ په ټولو سیمو کې یو شمیر مسیحیان شته. مسیحیت په ډیرو سختو شرایطو کې خپل ژوند او پرمختګ ته دوام ورکړ او یوائې هغه وخت کمزوری شو چې پیروان ئې د مسیح څخه لری شو. باید پام وشی چې ځینې مسیحیان ښکاره تش په نامه

مسیحیان دي حال دا چې واقعی مسیحیان هغه څوک دي کوم چې واقعاً د مسیح پیروان دي او د هغه زده کړې پخپل ژوند کې عملی کړي. که چیرې لوستونکی غواړی چې د مسیحیت په هکله صحیح معلومات پیدا کړی، باید چې داسې مسیحیان پیدا کړی چې هغوی واقعاً خپل ځانونه مسیح ته تسلیم کړی وی، ځکه چې همدارنګه خلک کولای شی چې د مسیح د حقیقی شاګردانو څخه وګڼل شي.

په پای کې ښه به دا وی چې څو کلمی د مسیحیت د ابدیت یا همیشه والی په مناسبت یادی کړو. کله کله داسې بریښی چې د مسیحیت بیړۍ مخ په ډوبیدو ده، مګر تاریخ ثابته کړی ده چې حالات همیشه په یو حال نه پاتی کیږي. خصوصاً د مسیح د راتګ په زمانه کې د پیغمبرانو د پیشګوئی سره سم "نړۍ به د خدای د جلال او معرفت نه ډکه شی لکه څنګه چې سیندونه د اوبو نه ډک دي." ډیر ژر به د سولې او هر اړخیزه عدالت وخت راورسیږي او دغه سوله او عدالت به د خلکو په تلاش پورې اړه ونلری. بلکه د خدای په واسطه به استقرار

ومومی. په اوسنۍ وخت کې تر اوسه پورې مسیحیت نه دی تکمیل شوی، مګر د مسیح د بادشاهۍ په وخت کې به تکمیل شی.

## ۲- دوهمه غلط فهمی

هغه دا چې مسیحیان په درې خدایانو عقیده لری. جواب: دغه ادعا بیخی غلط او هیڅ بنسټ نلری. مسیحیان یواځې په یو خدای باندې عقیده لری. د مقدس کتاب ټولې برخې په دغه حقیقت شهادت ورکوی "ای اسرائیلو واورئ! زمونږ خدای یو واحد خدای دی" (تثنیه ۶ : ۴). کله چې عیسی نه پوښتنه وشوه نو جواب ئې ورکړ چې تر ټولو لمړنی حکم دا دی چه "واورئ اسرائیلو! زمونږ حدای یو واحد خدای دی" (مرقوس ۱۲ : ۲۹).

د مقدس کتاب لوستل دا واضح کوی چې یواځې یو خدای موجود دی (لمړی تیموتیوس ۲ : ۵) په دې کې هیڅ شک نشته. دغه ناوړه فکر شاید له دغه نظره منځ ته راغلی وی چې مسیحیان عقیده لری چې د واحد خدای

په ذات کې تثلیث (درې ګونې حالت) وجود لري. دغه عقیده له دې عقیدې سره چې درې خدایان وجود لري ډېر فرق لري. مقدس تثلیث د خدایانو په شمیر پورې اړه نلري لکه د خدای په ذات پورې اړه لري. د خدای ذات جز د اسرار دی او په دې برخه کې باید یواځې او یواځې په هغه مکاشفه متکی اوسو کوم چې پخپله خدای خلکو ته ورکړې ده. "د اسرار ټول شیان خدای پورې اړه لري او ښکاره او څرګند شیان تر آبد الابده پورې زمونږ او زمونږ د اولادونو دي تر څو چې مونږ د هغه په شریعت باندې عمل وکړو" (تثنیه ۲۹ : ۲۹).

باید دې نقطې ته پام وکړو کوم هغه شی چې خپله خدای پخپله هکله خلکو ته ورښودلی د بشر د کاملې پوهې او فهم څخه ډېر لرې دی. دغه یو طبیعي امر دی ځکه چې محدود بشر نشي کولی چې د نامحدود خدای په ذات په پوره ډول پوه شي. که چیرې د خدای مکاشفه په صحیح توګه درک کړو، که څه هم ممکن دا د بشر د عقل او منطق څخه جګه وي مګر د هغه مخالف ندی. خو بیا هم مونږ ته ډېر اطمینان حاصلیږي. نو که چیرې په ډېر

احترام او تواضع سره د خپلو پوښتنو د جواب په لټه کې شو نو داسې جوابونه به پیدا کړو چې هم زمونږ فکر او هم زمونږ زړهٔ راضی کړي.

"د چا چې دا مرضی وی چه د خدای رضا پوره کړی هغه به په دې پوهه شي چه دا مرضی وی چه د خدای رضا پوره کړی، هغه به په دې پوهه شی چه دا تعلیم چه زه ئې ور کوم دا د هغه له طرفه دی، که ما په خپله جوړ کړی دی" (یوحنا ۷: ۱۷).

باید چې الٰهی امور په ایمان سره ومنل شی، لکه چې په ژوند کې ډیر داسې شیان دی چې بې له دې ځینې چې کاملاً پوه شو په ایمان سره ئې منو، مثلاً که څه هم د خپل وجود له ډیرو رازونو څخه بې خبر یو خو په عین حال کې دا قبلوو چې مونږ پخپله هم نور موجود یو، سره له دی ممکن دی چې په الٰهی اسرارو باندی پوره پوه نشو مګر د هغه موجودیت په هکله باید هیڅ شک ونلرو.

مقدس کتاب مونږ ته دا روښانه کوی چې خدای یو دی او هیڅ شریک نلری. په عین حال کې مقدس کتاب مونږ ته دا زده کړه هم راکوی چې خدای سره له دې چې

واحد دی یو مرکب موجود دی. چې دغه امر د عقل د اصولو سره هم سمون خوری ځکه چې په حقیقت کې د یو مطلق واحد وجود تصور ناممکن دی. خدای د خپل کلام په ذریعه بشر سره خبرې کوی نو د خدای د کلام موجودیت داسې یو شی دی چې مطلق وحدت له منځه وړی مګر دا امر د خدای د وحدت مخالف نه دی.

همدارنګه کله چې مونږ د خدای روح یا د روح الله اصطلاح استعمالوو او پوهیږو چې خدای د خپل روح په ذریعه کائینات خلق کړل او خپل پیغام ئې پیغمبرانو ته واستوه. آیا د خدای د روح موجودیت چې په مقدس کتاب کې تشریح شوی د خدای د وحدانیت مخالف دی؟ نه په هیڅ صورت سره مخالف نه دی.

د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شی یو څو مثالونه به ذکر کړو، تر څو دا ښکاره شی چې دغه نړۍ چې خدای جوړه کړی په وحدت کې ترکیب موجود دی. یوه ښه نمونه خپله انسان دی چې اشرف المخلوقات ورته ویل کیږی. انسان د ظاهری دید له نظره د خدای مشابه، عقل او عواطف او اراده لری. د انسان په هر تصمیم کې

خپل د هغه درې ګونی ذات شامل دی. مخصوصاً د استدلال په وخت کې کاملاً متوجه کیږو چې په دغه واحد انسان کې خبری اتری صورت نیسی. ډیر ځل داسې آورو چې یو سړی وائی "د ځانه سره می وویل." دغه امر د دې ښکارندوی دی چې انسان په عین وحدت کې هر رنګوالی لری. په ننني مکالماتو کې د کوم سړی سره خبری کوی؟ ښکاره ده چې یو واحد شخص پخپل ځان کې استدلال کوی. کله کله یو سړی "له ډیرې خوشحالی نه پخپلو جامو کې نه ځائیږی" او یا وروسته له یو وخت ځینې بیسده وی "په سد راځی". دغه مثالونه تر یوه حده پورې الٰهی خصوصیات روښانه کوی. په طبیعت کې ډیر داسې مثالونه شته چې په هغو کې وحدت او هر رنګوالی یو ځای دی. د لمر حرارت د لمر نور او پخپله د لمر موجودیت د تثلیث یو ښه مثال دی.

په واحده فضاء کې هم اوږدوالی، سور او جګوالی موجود دی. که یو له دې دریو ابعادو څخه له منځه ولاړ شی نو فضا به هم له منځه ولاړه شي. داسې نور ډیر مثالونه د دې ښکارندوی دی چې خدای د ټول کائیناتو

په خلقت کې د تثلیت اصل په وحدت کې مراعت کړی. نو دغه امر د عقل او منطق په خلاف نه دی.

مقدس کتاب رابنیی چې خدای د ازل نه د پلار او زوی او روح القدوس څخه عبارت دی او دغه دری اجزاوی د خدای ذات دی. مونږ نشو کولای چې دا موضوع د ریاضی په فورمولونو سره تشریح کړو ځکه چې د ریاضي د قانون په مطابق هر څومره چې یو او یو سره جمع کړو نو حاصل به ئې دری وی (۱ جمع ۱ جمع ۱ = ۳) مګر په عین حال کې که یو ضرب د یو ضرب د یو شی، نو مساوی کیږی په یو سره (۱ ضرب ۱ ضرب۱ = ۱) د انسان فهم او کوشش او استدلال د دې عظیم ذات په تشریح کولو باندی قادر ندی. اصولاً د خدای د ذات په باره کې بحث کول فایده نه لری. د دې لپاره چې مونږ د هغه نا محدود وجود پوره درک کړو نو باید چې مونږ هم نا محدود اوسو، نو په کار ده چې هغه شیان چې د خدای د ذات په هکله په مقدس کتاب کې ئې کشف شوی په پوره درناوی سره ومنو. یو بنه مثال په مقدس کتاب کې چې تثلیت په وحدت کې یو واقعه ده د متی په دریم فصل

کې ذکر شوی. په دغه برخه کې د مسیح د تعمید په وخت کې د خدمت د شروع کولو په اولو وختونو کې داسې لولو چې روح القدس د یوې سپینې کوتری په شکل (چې د سولې او آرامی نمونه ده) په مسیح باندې نازلیږی او دغه آواز د آسمان څخه آوریدل کیږی چې "دا دی زما محبوب زوی چې زه د هغه څخه ډیر خوښ یم." د رسولانو په کړو وړو کې ډیر زیات اشارات د خدای روح، د خدای زوی او خدای پلار په مناسبت وجود لری او هر یو د دې دریو اجزاوو څخه په واقعیت کې خدای دی.

د پورتنیو څرګندونو څخه روښانه کیږی چې د هغو مکاشفاتو سره سم کوم چې خدای په مقدس کتاب کې، طبیعت او د انسان په ذات کې اجرا کړی، امکان لری چې واحد خدای په تثلیث کې شامل یعنی پلار او زوی او روح القدس وی. سره له دې چې دغه حقیقت د عقل څخه لری خو د هغه مخالف نه دی.

باید اعتراف وکړو چې د خدای په وحدانیت کې د تثلیث موضوع داسې یو مشکل دی چې د ډیرو خلکو فکرونه ئې مشغول کړی دي. مونږ په دغه برخه کې ډیری

تجربی لرو، شهادت ورکوو چې که څه هم دغه موضوع زمونږ د عقل او فکر څخه پورته ده، مګر یوائې عقیده ده چې هم زمونږ عقل او هم زمونږ زړونه قانع کوي. زمونږ په نظر د الٰهی په دغه عظیم ذات باندې پوهیدل دا دی چې انسان باید توبه کوونکی زړه ولری او د خپلو ګناهونو د بخښلو او آرامی لپاره، لوی او مقدس خدای ته مخ واړوی.

د خدای واقعی پیژندل د هغې لاری په قبلولو سره کوم چې خدای د مهربانی له مخی د ګناهګار انسان د بخښلو لپاره برابر کړی امکان لری ځکه چې د مقدس کتاب په مطابق «مسیح راغلی او تاسو چې لری وی او هغه چې نژدې وو، دواړو ته ئې د سولی زیری درکړو» (افسیان ۲: ۱۷).

## ۳= دریمه غلط فهمی

چې د ډیرو خلکو لپاره پیدا شوی هغه دا چې د مسیح لپاره (د خدای زوی) اصطلاح استعمال شوی ده ګوندې

جسمانی معنیٰ لري یعنی دا چې خدای واده کړی او د زوی خاوند شوی دی؟

جواب:= د مسیح نه لاپخوا دغسې عقیده په بت پرستانو کې موجوده وه چې د دې په مطابق خدایانو ودونه کول او اولادونه به ئې زیږول. د هند او یونان په پخوانیو قصو کې دا مطالب شامل دي. دا ښکاره ده چې دغسی عقیدی په هیڅ صورت سره د حقیقی خدای د پرستش د اصولو سره سمون نه لری چې په مقدس کتاب او مسیحی عقایدو کې نه لیدل کیږی. دا د شک ځای نه دی که خدای پرسته خلک په دغسې عقایدو باندې ملنډی وهی.

هغه مهم ټکی چې باید په نظر کې ولرو دا دی چې د خدای د زوی اصطلاح چې مسیح ته استعمال شوی په هیڅ وجه جسمانې او جنسی مفهوم نه لری. په ورځینو خبرو اترو کې هم همدارنګه اصطلاحات استعمالیږی لکه پلانی "ابن الوقت" دی، زمونږ منظور دا نه دی چې هغه حتماً د وخت زوی دی په دې معنیٰ نه چې وخت د کومې ښځې سره واده کړی او زوی ئې پیدا شوی. یا کله وایو چې پلانی سړی "د دروغجنو پلار دی" د دې څخه

مطلب دا نه دی چې هغه د کوم ښځې سره واده کړی وی او درغجن زامن ئې زیږولی وی.

اوس نو ولې د مسیح په هکله دا غلط فهمی وجود لری یعنی چې د مسیحیانو مقصد دا دی چې خدای ښځه کړی او مسیح د هغه زوی دی؟ دا غلط فهمی باید لری شی ځکه چې د دې په وجه ډیر خلک د انجیل نه مخونه اړوی.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د حضرت عیسیٰ زیږیدنه د نړۍ د عجیبه پیښو څخه ده، ځکه هغه بی له دې چې جسمانې پلار ولری د پیغلې مریمی څخه وزیږیده، او مسلمانان هم هغه ابن مریم (د مریمی زوی) بولی. د مسیح زیږیدنه د یوې پیغلې نه د تورات په اولو برخو کې په یو عجیب ډول سره پیشګوئی شوی ده او په هماغه لمړینو وختونو کې چې انسان د شیطان په وسوسه په ګناه مبتلا شو، خدای شیطان ته خطاب وکړو او وئې فرمایل: "او زه به ستا او د ښځې په مینځ کې او ستا د اولاد او د هغې د اولاد په مینځ کې دښمنې واچوم نو دی

به ستا سر ټکوی او ته به د ده پونده چیچی." د ښځی نسل (د ښځې د نسل) اصطلاح د پام وړ ده.

یشعیاه نبی د موضوع په تائید سره وفرمایل: "یوه پیغله به امیدواره شی او یو زوی به وزیږوی."

متی په خپل انجیل کې د مسیح زیږیدنه په یو جالب ډول تشریح کوی متی (۱: ۱۲-**۲۵**) او دا ښکاره کوی چې د پیغمبرانو پیشګویانی د مسیح په باره کې د یوې باکری ښځه څنګه اجراء شوی، د عالم نجات ورکونکی فرمائی "ځکه خو مسیح دنیا ته د راتلو په وخت فرمائی: ((تا قربانی او نذر خوښ نهٔ کړو بلکه زما لپاره دې یو بدن تیار کړو.)) (عبرانیان ۱۰: **۵**).

ټول نړی وال د حضرت مسیح زده کړو او شخصیت ته ډیر احترام قایل دی ځینې خلک هغه "معصوم پیغمبر" بولی او رښتیا هم چې هغه معصوم او پاک او بې ګناه وو. البته حضرت مسیح پاک او بې ګناه ؤ، مګر که مونږ وګورو د هغه شخصیت د دې څخه هم ډیر جګ دی. د لوقا په انجیل کې د مریم د امیدواریدو په باره کې دا رنګه لیکل شوی دي چې: بیا فرښتی هغې ته وویل چې

"ته به امیدواره شی او یو زوی به دې وشی او ته به د هغه نوم عیسیٰ کیږدی." مریمی وویل چې "دا څنګه کیدای شی؟ زه خو لاواده شوی هم نه یم؟"

فرښتی د هغې په جواب کې وویل: " روح القدس به په تا نازل شی او د الاعلیٰ قدرت به په تا سوری وکړی او په دې وجه به هغه پاک پیدا کیدونکی ماشوم د خدای زوی بللی شی." (لوقا ۱: **۳۴=۳۵**).

ممکن د ډیرو لپاره دا سوال پیدا شی چې ولې مسیحیان دغه لقب نه بدلوي، تر څو چې د دومره غلط فهمیو سبب نه شی؟ آیا نشی کیدای چې حضرت مسیح ته بل لقب ورکړ شی چې ډیر ناراحت کوونکی نه وی؟ البته مسیح نور لقبونه لکه د "خدای کلیمه" هم لری ولې په عین حال کې باید پوه شو چې مونږ دا حق نلرو چې د "خدای زوی" کلیمه چې د خدای په کلام کې ذکر شوی ده په خپل خواهیش او ذوق سره بدله کړو. اوس به دې موضوع ته پام وکړو چې ولې دغه اصطلاح د خدای په کلام کې استعمال شوی ده لمړنی دلیل دا دی چې دغه اصطلاح دا رانبائی چې عیسیٰ مسیح کولای شی چې

واقعاً د خدای ذات او ماهیت بشر ته ښکاره کړی او د هغه پوره ښکارندوی او جلال بخښونکی اوسی. "خدای چیرې هیچا نه دی لیدلی بې له خدای د یو زوی نه، هغه ځوک چې د پلار په غیږ کې دی او هم پلار هغه ښکاره کړی دی" (یوحنا ۱: ۱۸). یوائې او یوائې د خدای زوی کولای شی چې د آسمانی پلار خصوصیات او واقعی صفات خلکو ته وښیی. د عبرانیانو په اول باب په اول او دریم آیات کې لولو چې عیسیٰ مسیح د خدای زوی او د جلال ښکارندوی او د الٰهی جوهر خاتم دی د عیسویانو په عقیده بې د زوی د پیژندنی ځخه یعنی بې د عیسیٰ مسیح د پیژندنی ځخه امکان نه لری چې خدای واقعاً وپیژنو.

په دې ځای کې باید یو مهم ټکی ته اشاره وکړو. مخکی مو وویل چې زوی د ازل نه یو له دریو الٰهی اجزاوو ځخه دی. او د مسیح د زیږیدو ځخه ځو پیړی مخکی د (خدای زوی) اصطلاح د پیغمبرانو پواسطه هغه ته ورکړ شوی ده. مثلاً په دوهم مزمور کې لولو چې پلار زوی ته خطاب کوی او وائې چې "ته زما زوی یې" دا موضوع

راښي چې د ازل نه د دې دریو اجزاوو په منځ کې اړیکی موجودی دی. مقدس کتاب فرمائی "دغه شان مونږ خبر یو او یقین لرو چې خدای مونږ سره مینه لری. خدای مینه دی او څوک چې په مینه کې قائم وی، هغه په خدای او خدای په هغه کې پاتې کیږی." (اول یوحنا ۴: ۱۶) او لاژم دی چې خدای د خپلی مینې په ښکاره کولو سره قادر وي. محبت بې د محبوب د شتوالی څخه ناممکن دی. دغه محبوب چې د خدای زوی دی د ازل نه موجود وو او د خدای له دریو اجزاوو څخه دی او همدا د خدای ازلی زوی مجسم شو او د پیغلې مریمی څخه وزیږید.

هغه مناسبات چې د پلار او جسمانې زوی تر منځه په دې نړۍ کې وجود لری په هیڅ ډول پوره نه دی، بلکه نظر هغی اړیکی ته چې په مقدس تثلیث کې د پلار او زوی تر منځ شته، ډیره کمزوری او ناقصه نمونه ده.

## ۴- څلورمه غلط فهمی

هغه دا چې د مسیح اعدام او وژل د هغه د مقام سره لاژم نه دی او خدای به هیڅکله په دې راضی نه وی چې مسیح په

يو داسې افسوس ناکه حالت ووژل شي، د مسيح د وژلو په ذريعه د ګناهونو پر بخښلو باندی عقيده غلطه او د اخلاق مخالفه ده.

جواب:- دغه انتقادونه د مسيحت په لمړی پيړی کې هم موجود وو. يونانيانو د مسيح په مصلوب کي دو باندې عقيدی نه يو ډول حماقت وايه او يهوديان هم په دې عقيده ټينګ نه وو. د دې انتقاداتو د موجوديت يو دليل دا وو چې په هغه وخت کې په صليب باندې اعدامول ډير وحشتناک وو. د روميانو په منځ کې دغه رنګه د تکليف نه ډک مرګ د ادب د اصولو خلاف ګڼل کيده ځکه چې صليب د اعدامولو يو ډيره ظالمانه وسيله وه. همدا وجه وه کله چې مسيح د خپل مصلوب کيدو په مناسبت پيش ګوئی کوله نو د پطرس لخوا منع کيدل (متی ۱۶: ۲۲، ۲۳) د مسيح د مړينې نه يوائې په تاريخی کتابونو کې ذکر شوی، بلکه په نوې عهد کې مفصلاً په دې باره کې صحبت شوی. که څه هم مسيح يوائې د شپږ ساعتونو لپاره پر صليب باندې ؤ مګر د نوې عهد مهمه برخه د دې موضوع تشريح کولو ته اختصاص موندلی او د هغه نيولو

محاکمه کیدو مصلوب کیدو د ښخیدو او قیام په برخه کې په ډیر تفصیل او جزئیانو سره شرح شوی ده.

د خیرانتیا وړ خو دا ده چې مسیح ډیر ځله د خپل مصلوب کیدو په هکله خبرې کړي. هغه خپل د راتګ مقصد دې نړۍ ته په دې کلیماتو بیان کړ "ځکه چې ابن آدم هم د دې لپاره نه دی راغلی چې خدمت واخلی بلکه د دې لپاره راغلی دی چې دی د نورو خدمت وکړی او چې خپل ژوندون د ډیرو په بدل کې په فدیه ورکړی" (مرقوس ۱۰ : **۴۵**). مسیح دا رنګه ویناوی ډیر کړي دي.

مخکې له دې چې د صلیب په معنیٰ پوه شو لازم دی چې دې ته پام وکړو چې یوازې اصلی فدا کاری او ځان قربانول دی چې د ټولو لویانو د منلو او احترام وړ وګرځي. مونږ ټولو هغو کسانو ته چې پخپل ایمان او عقیده باندې خپل ځانونه قربان کړي احترام لرو او د ټولو فدا کاریو له جملې څخه د سقراط حکیم ستاینه کوو چې د حقیقت په لار کې ئې د زهرو د جام په څښلو سره خپل ځان له لاسه ورکړ او د حق او حقیقت د لاری ټولو شهیدانو ته درود استوو.

د بشر په تاریخ کې ډیر داسې خلک شته چې د نورو خلکو لپاره ئې خپل ځانونه قربانی کړي. په دې وروستیو وختونو کې په آلمان کې یو کشیش د یو بل سړی پر ځای چې د نازیانو په زمانه کې په اعدام محکوم شوی وو داو طلبانه خپل ځان فدا کړ او احترام مراسم د کشیش د مرګ ځینې وروسته اجرا شو. څرنګه چې دغه په اعدام محکوم شوی سړی اولادونه درلود او د دې لپاره چې د هغه اولادونه بې پلاره او بې سرپرسته او یتیم نه شی دا کشیش حاضر شو چې د هغه محکوم سړی په ځای اعدام شی. په میندو کې هم ډیرې داسې میندی پیدا کیږی چې خپل ځانونه ئې د خپلو ځامنو لپاره قربان کړی. حتیٰ د نباتاتو په عالم کې هم تخم په ځمکه کې له منځه ځي تر څو چې یو نوی نبات منځ ته راشی. حیوانات هم د خطراتو په مقابل کې چې د هغوی بچیانو ته پیښیږی د ژوند تر پایه پورې فدا کاری کوی.

انسانان د خپل ژوند د ادامی لپاره حیوانات حلالوي او د خوراک په شکل د هغوی ځینې ګټه آخلی. دغه قربانی ګانی که څه هم اجباری دی مګر د بشر د عمر

د بقاء سبب ګرځی. مونږ د هغو کسانو ځینې مننه کوو کوم چې زمونږ لپاره قربانی او کار کوی. مونږ ډیر زیات د خپل مور او پلار او استاذانو او روحانی پیشوایانو مدیون یو، د مسیحیانو عقیده دا ده چې د مسیح قربانی د لویو فداکاریو څخه ده. دا موضوع کوم شرم نه دی بلکه د هغه یو ستر کار دی او د مسیح دا کار سبب شوی چې هغه په شرارت باندې غالب شي. د مسیح د فداکاری پیغام د دې سبب شوی دی چې په ډیرو ټولنو کې د هغه نه الهام واخلی او د ټولنیزو اصلاحاتو لپاره ډیر تلاشونه وکړی.

آیا دا موضوع په الٰهی صفاتو پورې اړه لری؟ آیا خدای د مسیح قربانی کیدو ته کوم اختیاج لری؟ آیا خدای نشی کولی چې بې له قربانی څخه ټول خلک وبخښی؟ که لاندې مطالبو ته پام وکړو ښکاره به شی چې خدای د هماغه لمړیو وختونو څخه د شرح شوی اصولو په مطابق په کار مشغول ؤ.

په عهد عتیق کې د لاویانو په کتاب کې چې د تورات (دریم کتاب) دی د قربانی کولو په باره کې ډیر دقیق مقررات وجود لری، چې حضرت موسیٰ په الٰهی

الهام سره ثبت کړی دی. د اسرائيلو په قوم کې ډول ډول قربانۍ د ګناهونو د بخښلو او د خدای سره د مصالحی او يا تقدس لپاره وجود درلود او د خطاء ګانو د اصلاح کولو لپاره ډير قوانين ليدل کيدل او په مقدس کتاب کې ډيری زياتی اشاری په دغه برخه کې وجود لری. د دې ټولو قربانيو فلسفه دا ده چې يواځې د وينو په تويولو سره د ګناهونو بخښل امکان لری او کوم حيوان چې قرباني کيدلو د ګناه ګار سرې لپاره ئې خپل ځان فدا کاوه. له همدې سببه يهودی مومنان متوجه ؤ چې دغه قربانۍ د يوې مهمی او لوئی قربانۍ نخښه ده کوم چې په راتلونکی کې به اجرا شی حضرت داؤد په داسې حال کې چې د خپلو ګناهونو لپاره ئې ژړل داسې وفرمايل: "قربانی ستا خوښه نه وه که نه ما به ورکوله" او بيا وائی "مات روح د خدای قربانی ده. خدايه! خوار او مات زړونه خوار مه بوله".

د داود وينا وی د اسرائيلو د واقعی ايماندارانو د عقايدو انعکاس دی ځکه دوی متوجه شوی وو چې د

حيواناتو قرباني د يوې سترې او لوئې قربانۍ نخښه ده کوم چې د خداې پواسطه تياره شوې ده.

اوس نو ښکارې چې د مسيح قرباني کيدل، د انسان د خلاصون د پاره د خداې نقشه وه. او د ګناه ګار بشر د خلاصون لاره همدا وه. مونږ ګورو چې د مسيح قرباني کيدل د ټولو مخکينو قربانيو د مراسمو پوره کيدل ؤ، نورې قربانۍ په زور سره اجراء کيدې مګر مسيح پخپله خوښه قرباني شو. نورې قربانۍ د حيواناتو قربانۍ وې مګر د مسيح قرباني يوه الٰهي قرباني وه. عيسیٰ مسيح، مجسم شوې خداې ؤ چې په صليب باندې ئې خپل ځان قربان کړ. په بل عبادت سره خداې د بشر د ګناهونو مجازات پخپل ځان واخيستل، نو په هم دې دليل سره دا يوه بشپړه او پوره قرباني وه. دغه د اخلاقو ډيره لوړه درجه او زياته مهرباني او الٰهي فداکارې ده. "خداې په مسيح کې وؤ او د ځان او نړۍ تر منځ ئې سوله ورکوله" حضرت مسيح حاضر شو چې ډير بد او دردناکه مرګ په صليب باندې ومنې او دومره خوار شو چې د دوو غلو په منځ کې مصلوب شو نو دا امر راښيي چې د بشر د

خلاصون لپاره تر کومې اندازې پورې فداکاری ته حاضر ؤ او د صلیب د پاسه ئې هم د هغو غلو د خلاصون لپاره کوم چې د ده سره مصلوب شوی وؤ، فکر کاوه. خدای د مسیح فداکاری چې د هغې په مصلوب کیدو سره عملی شوه ومنله او د مسیح په بیا ژوندی کیدو سره تائید کړ، چې د مسیح قربانی منله شوی ده. البته د مسیح قیام یوه بیله موضوع ده چې دلته ئې بحث نه کوو.

د مسیح یو له د د ستوراتو څخه شاګردانو ته دا وو چې د هغه مرګ په یاد ولری. د تاریخ په اوږدو کې په ملیونو خلک په ټوله نړۍ کې د هغه با ارزښته مرګ یادوی.

ټول مسیحیان د عشاء ربانی د مراسمو په اجرا کولو سره د مسیح د خلاصون بخښونکی مرګ په فکر کې دي. دغه امر د مسیح تر بیرته راتلو پورې د مسیحی عبادت اصلی او مرکزی هسته ګڼل کیږي. د خدای کلام فرمائی "د سولۍ پیغام د هلاکیدونکو په نزد بې وقوفی ده خو زمونږ د نجات موندونکو په نزد د خدای قدرت دی" (اول کورنتیان ۱: ۱۸).

## ۵= پنځمه غلط فهمي

هغه دا چې مقدس کتاب معتبر نه دی او هغه ته تغیر ورکړ شوی او د اصلی نسخی سره ډیر توپیر لري او اشتباهات او نواقص په هغه کې لیدل کیږی.

جواب:- دغه غلط فهمی دوه منبع لري. اول دا چې په تیره پیړۍ کې په غربی ملکونو کې د مقدس کتاب د منابعو په هکله څیړنې وشوي. او په مقدس کتاب باندې ډیر حملې شوی دي. په لنډ ډول باید ووایو چې دغه د الٰهی امورو او ماوراء لطبیعت مخالفین چې له ټولو نه د معجزاتو سره ډیر تعصب لری او هم د دوی عقیدی یو د بل سره ډیره توپیر لري او د دوی نظریاتو هم په دې څو کلونو کې دومره بدلونونه پیدا کړی چې د هغوی سره جدیت او استناد کیدی نه شي. په لنډ ډول ویلی شو چې تر اوسه پورې هیڅ یو تاریخی او یو لرغونی آثار نه ده را منځ ته شوی چې د مقدس کتاب مخالف وی بلکه برعکس ټول کشفیات چې منځ ته راغلی د مقدس کتاب صحت او اعتبار تصدیق او تائیدوی. د ایمان پوهانو چې د مقدس کتاب د منابعو او تاریخ په باره کې ژوري

ځیرنې کړي د هغه په صحت او اعتبار پوره عقیده لري. دوهمه منبع دا ده چې = ځینې مسلمانان دا ادعا کوي چې په مقدس کتاب کې تحریف شوی دی. بې له دې چې د دغه امر علت او تاریخ ذکر کړی. باید پام وکړو چې مقدس کتاب د خدای د ښه پیژندلو لپاره ډیر ضروری دی او په الٰهی الهام سره د مقدسو پیغمبرانو په واسطه لیکل شوی دی او د ایمان لرونکو د اصلاح او لارښوونی لپاره ډیر ګټور دی. مسیح په خپله مبارزه کې د شیطان سره درې ځلی د مقدس کتاب څخه نقل قول وکړ او د مقدس کتاب اعتبار او صحت ئې تائید کړ مسیح وویل "آسمان او مځکه به پاتی نه شی خو زما کلام به پاتی شی" (متی ۲۴: ۳۵).

((د خدای کلام به تر ابدالابده پورې ثابت پاتی شي))
(یشعیاه ۴۰: ۷)

دا ډیره ضروری ده چې د خدای لخوا معتبر او د اعتماد وړ کلام مونږ سره وی. مقدس کتاب د ۱۵۰۰ کالو په موده کې لیکل شوی او د هغه لمړنۍ برخه د موسیٰ پواسطه په الٰهی الهام سره او آخری برخه ئې د

میلاد په لمړنۍ پیړی کې د مسیح د شاګردانو پواسطه د روح القدوس په الهام ولیکل شو.

په عهد عتیقه کې هغه مقدس کتابونه شامل دی کوم چې د حضرت مسیح څخه مخکی د پخوانیو پیغمبرانو پواسطه لیکل شوی او د ډیرو پخوانیو نسخو په نظر کې نیولو سره چې د فلسطین د مړی بحیری په منطقه کې پیدا شوي دي معلومیږی. چې د اوسنیو نسخو سره د متن د صحت او د اصلی نسخو سره د مطابقت له نظره مکمل او د اعتماد وړ دې. دغه ډیرې پخوانۍ نسخی چې د مړی بحیری سره نژدی پیدا شوی د مړی بحیری د طومار په نامه مشهور دی. د دغه ډیر پخوانی طومارونو په منځ کې بې د ایستر له کتاب څخه نور د ټول عهد عتیق ډیرې برخې موجودي دي او ځینې ځینې کتابونه مکمل دی. د عملی اصولو په مطابق د دغو طومارونو تاریخ د میلاد اول او دوهم قرن تعین شوی دی او دغه تاریخ د هجرت څخه (۷۰۰) کاله مخکی دی. د مړی بحیری د نسخو د کشف څخه مخکې د عهد عتیق ډیرې قدیمی نسخی په نهم (۹) میلادی قرن پورې اړه

درلوده او هر کله چې پوهانو دغه موجوده عهد عتیق د دې پخوانو نسخو سره مقایسه کړې نو د هغه د صحت او مطابقت څخه حیران پاتې شول.

د نوی عهد مختلفی برخې په لمړنۍ میلادی پیړی کې په مختلفو ژبو ترجمه او د نړۍ مختلفو برخو ته نقل شوی. دغه لیکنی سبب شوی چې مسیحیان په هر ځای کې د مسیحیت حقایق زده او د مسیحی عقایدو د اصولو د یو عالی مرجع په شکل ترې ګټه واخلی. د دې له امله معلومیږی چې د هجرت څخه ډیر پخوا مقدس کتابونه په هر ځای کې پیژندل شوی ؤ او حضرت محمد صلی اللهُ علیه وسلم هم همدغه کتابونه د بشر د هدایت لپاره معتبر ګڼل. د اسلام صلاحیت لرونکی پوهان دا ادعا نه کوی چې د مقدس کتاب په متن کې تغیر راغلی بلکه امکان لری داسې ووائی چې د هغو په تفسیر کې یو لړ اشتباهات شوی دي. البته دغه آخری نظر مونږ هم قبلوؤ، ځکه امکان لری چې ځینو مسیحیانو د مقدس کتاب په تفسیر کې اشتباهات کړی وی. په عین حال کې باید دا مهمه نقطه تائید کړو چې د مقدس کتاب په متن کې

بدلون نه دی راغلی او قدیمی نسخی چې د نړۍ په لویو کتابخانو کې موجودي دي د دې امر په صحت شهادت ورکوي او مونږ د ګرانو لوستونکو د خبرتیا لپاره دغه ځینو نسخو ته اشاره کوو.

الف:- د سکندرئي نسخه = دغه نسخه د برطانی په موزیم کې موجوده ده او په ۴۵۲ میلادی کال پورې تعلق لري، یعنی ۱۷۰ کاله مخکی د هجرت ځینې.

ب:- د سینا نسخه = دغه نسخه هم د برطانی په موزیم کې موجوده ده او د څلورمې میلادی پیړۍ په منځینو وختونو کې یعنې ۲۷۰ کاله مخکی د هجرت څخه نسخه برداری شوی ده.

دغه نسخه په ۱۹۳۳ میلادی کال کې د برطانی د موزیم لخوا په سلزره (شل ملیونه ریاله) واخستله شوه.

ج = دواتیکان نسخه:= دغه نسخه د روم دواتیکان په کتابخانه کې موجوده ده او د څلورمې میلادی پیړی په لمړیو وختونو کې یعنی ۳۰۰ کاله مخکی د هجرت څخه نسخه برداری شوی ده. پوهانو د علمی اصولو څخه په استفادی سره دا تائید کړی چې دغه هر یوه نسخه حتماً

په پورتینو ذکر شوو تاریخونو پورې تعلق لري او حتٰی امکان لری چې د دغو ذکر شوو تاریخونو څخه هم قدامت ولري.

ځینې داسې کتابونه هم شته چې د مسیحیت د رد او یا انکار لپاره لیکل شوی دی، چې دغه کسان انحرافی عقیدی لری. بعضی د دغو کتابونو څخه په مسیحیت باندې د خپرولو لپاره دي چې د هغې جملې څخه برنبا یعنی د انجیل یو جعلی کتاب دی. مسیحی رهبرانو دغه کتابونه د مسیحیت د موازنو سره مقایسه او هغوی ئې لغو کړل او کلیسا د روح القدس په هدایت مسیحی کتابونه حفظ کړل. د مسیحیانو عقیده دا ده چې د خلاصون لوری ته د لار ښوونی لپاره خدای دغه مقدس کتابونه بشر ته لیږلی دي او دغه کتابونه د پیړیو په اوږدو کې د روح القدس په هدایت او الٰهی الهام سره لیکل شوی او په مقدس کتاب کې الٰهی د ستورات کاملاً شامل او د ګناه څخه د خلاصی لپاره صحیح لاره ده. همدا دلیل دی چې د مقدس کتاب ټولې برخې سره له دي چې د پیړیو په اوږدو کې لیکل شوی، یو د بل سره کاملاً

مطابقت لري او د داسې قدرت لرونکی دي چې په ملیونو خلک د خلاصون لورې ته رهبری کړي. دا ښکاره خبره ده هغه کسان چې په خدای عقیده او ایمان لری د مقدس کتاب حقایق لکه د پیدایښت ډول د ګناه داخلیدل نړۍ کې، د خلاصون ورکوونکی په هکله پیشګویانی او د هغه معجزی په مقدس کتاب کې په آسانی سره نشی منلی بلکه د خپل انسانی افکارو او خیالاتو پیروی کوی او الٰهی افکار نه منی. مګر ایماندار مسیحیان معتقد دي چې مقدس کتاب یو الٰهی کلام دی چې د خدای له لوری مونږ ته عطاء شوی او کاملاً د اعتماد وړ او معتبر دی او د بې ایمانانو د ټولو انتقاداتو لپاره په کې قانع کوونکی جوابونه موجود دي.

د دې خبری ذکر به بې ځایه نه وی که معلوم شي چې بشر په حاضره پیړۍ کې څومره د خدای کلام ته ضرورت لري، د نوی عهد ترجمی څخه په انګریزی ژبه باندې په دې دریو وروستیو کلونو کې د دیرشو ملیونو ټوکو څخه زیات خرڅ شوی. او د هغه لوستل د دې سبب شوی چې په زرګونو خلکو لویدیځی نړۍ کې له ځوانانو څخه بیرته د

عیسیٰ مسیح په لورې راغله او هغه ئې د خپل خلاصون ورکونکی په حیث وپیژنده او د نوې ژوند خاوندان شول. که پورتنی ذکر شوو شیانو ته پام وشي، دا ترې ثرګندیږی چې د مقدس کتاب اصالت او اعتبار د ایماندارو پوهانو لخوا د تائید وړ دی او د هغو ژورو تاثیراتو په نسبت چې مقدس کتاب ئې د ټولنیزی وضعی په اصلاح او د خلکو د ژوند په بدلولو کې کړي دي، نو د اطمینان وړ دی چې هیڅ ډول بدلون د هغه په متن کې نه دی راغلی. دا رنګه نتیجه ګیری کوو چې د ویلیام کلادستون (انګلیستان یو مشهور صدراعظم) په وینا سره وائی: "مقدس کتاب غیر قابل تسخیر او ماتی نه خوړونکی الٰهی کلام دی."

پای: اوس خپل بحث د هغو غلط فهمیو په باره کې چې ډیر ځله د مسیحیت د پیغام علاقمندانو ته پیښیږی ختموو. امید لرو چې ګران لوستونکې د دې رسالی په لوستلو سره دې ته پام کړی چې مقدس کتاب اصلی زده کړي د عقل او منطق سره مخالفت نه لری کوښښ کوو چې دا خبره هم ښکاره کړو چې مقدس کتاب په پوره ډول معتبر او د اعتماد وړ دی او هر چیرته چې د قبول وړ

ګرځیدلی د خلکو په وضع کې د ډیرو اصلاحاتو او ښه
والی سبب شوی امید لرو چې دغه توضیحات د دې سبب
شي چې تاسې هم د حقیقت په کشفولو کې علاقمند او د
هغه په لټه کې شئ.

په ضمن کې د دې یادونه هم لاڑمه ده چې فکری او
عقلی مینه په در مورد کې کافی نه ده. مقدس کتاب
فرمائی چې "شیطانان هم ایمان لری (چې خدای یو دی) او
لړزیږی" اګاهی او پوهه تر هغه وخته پورې چې په ژوند کې
عملي نشي ګټه نه لری. که د خواړو څخه ډیر صفت او
ستاینه وکړو د هغه څخه به هیڅ ګټه وانخلو. نو له دې
لپاره چې د خواړه څخه ګټه واخلو باید هغه وخورو د
مسیحیت د پیغام قوت هغه وخت معلومیږی چې په
عیسیٰ باندې چې هم د خدای زوی دی او هم د بشریت د
ژوند لپاره مصلوب شوی نجات ورکوونکی دی ایمان
راوړو. "ټول انبیاء په هغه باندې ایمان راوړي د هغه په نوم
به د ګناهونو څخه معاف شي". هغه کسانو چې په کامل
ایمان سره خپل ځانونه عیسیٰ مسیح ته سپارلي، د یو
حقیقی آرامی لرونکی دي چې د ګناهونو د بخشش

نتیجه ده او په ژوند د یو هدف او روحاني قوت خاوندان شوی دي چې کولای شي پخپل ژوند کې خدای خوشحاله کړي. ګرانو لوستونکو! تاسو هم کولای شي چې د دغسی نوی او عالي ژوند خاوندان شی ځکه چې خپله عیسیٰ مسیح تاسې ته بلنه درکوی او فرمائي: "ای تاسو چې ټولو خواری کوی او پنډ مو دروند دی ماله راشیۍ او زه به آرام درکړم"(متی ۱۱: ۲۸).

که تاسې غواړئ د دې رسالی د ذکر شوي موضوعاتو په هکله زیات معلومات حاصل کړی، لطفاً په لاندې آدرس مکاتبه وکړئ:

د مسیحی ادبیاتو د مشاورتی کمیټی نشر کوونکی. او توزیع کوونکی.